# شریعت

اوونیزه

دافغانستان دطالبانو داسلامي تحريك نشراتي ارگان


**په غنيمت پسې مه گرځئ خانونه اصلاح كړئ**

«أي محمد ﷺ!» دغنيمتونو په اړوند له تانه پوښتنه كوي، ورته ووايه چې غنيمتونه دالله (جل جلاله) او درسول ﷺ دي. نو تاسي له الله تعالی څخه وه ويرېږئ، دخپل منځي حالاتو اصلاح وكړئ، (يعني په خپلو منځونو كي سره دوستي وكړئ او اختلاف مه كوئ) دالله (جل جلاله) او رسول ﷺ حكم ومنئ.

ژباړه(محمد - ۱-۲)

**تقاضاي امارت نه كنيد**

عبدالرحمن بن سمره رضی الله عنه گفت كه آن حضرت ﷺ برايش فرمود: طالب مسئوليت وامارت مشو، اگر مقام امارت در اثر خواسته ات داده شود از طرف خداوند معاونتي همرايت نخواهد شد.

(بخاري)


لومړی كال | اوو څلويښتمه گڼه | دوشنبه د۱۳۷۵ هـ ش كال دقوس دمياشتي (۵) | د۱۹۹٦ميلادي كال نومبر (۲۵) | د۱٤۱۷هـ ق كال رجب المرجب (۱۵)


# اختلافات وسيع در صفوف مخالفين دولت اسلامي آشكار گرديد

## مسعود از بيم حملهٔ احتمالي دوستم افراد خود را در نزديك خطوط قواى دوستم جا بجا نميكند

بعد از آنكه مخالفين تحريك اسلامي طالبان در مقابل اردوي اسلامي تاب مقاومت نياوردند ودسيسه موسوم بر دفاع ملي انان با شكست فاحش مواجه گرديد اختلافات گسترده، در صفوف انها بروز كرده است.

احمد شاه مسعود فرمانده شوری نظار از امضاء معاهده خنجان راضي نبوده وطي تقريباً دوماه گذشته به مزار نه رفته است. مسعود طي مصاحبه، به خبرنگاران گفته كه وي دوستم را به حيث رئيس شورى دفاع ملي نمي پذيرد ودوستم از همان وهله، اول گفته بود كه وي هيچگاه رباني را منحيث رئيس جمهور نه شناخته ونه هم اكنون وي را به حيث رئيس جمهور مي شناسد.

در خبر گفته شده حكمتيار وسياف كه در معاهده، خنجان شركت نكرده اند مي كوشند تا رباني رانيز متقاعد سازد كه به شركت خود در اين ائتلاف (ص٤)

# ولسوالي مير بچه كوت، وگلدره تصفيه گرديد

## پيشروي اردوي دولت اسلامي به سوي قره باغ ادامه دارد

### در مناطق بالا مرغاب، غور ماچ به دشمن تلفات سنگين وارد گرديد

خبر نگار شريعت از خطوط مقدم جبهه ضمن يك تماس مخابروي گذارش داد در جريان تيره يكه ديشب وديروز ميان اردوي اسلامي وقواي مخالفين صورت گرفت ولسوالي مير بچه كوت، وگلدره تصفيه شد وپيشروي اردوي دولت اسلامي به سوي قره باغ ادامه دارد. در خبر گفته شده كه مخالفين همه سلاح ثقيل وخفيف ويه مقداري زياد مواد لوجستيكي را بجا گذاشته وفرار كرده اند. به اساس يك اطلاع ديگر مخابروي از بادغيس ديشب در اطراف درياي بالامرغاب ومناطق غور ماچ ميان مجاهدين اردوي دولت اسلامي وافراد دوستم جنگ به وقوع پيوست كه تلفات سنگين به دشمن وارد گرديد.

در خبر گفته شده [illegible] تن انها كشته وچندين [illegible] زنده اسير شده اند. همچنان [illegible] درگيري سه عراده تانك وچندين عراده وسايط نقليه، دشمن [illegible] دولت اسلامي افتاده است.

## ددوستم ۲۲ ډوله جنگي الوتكه نا بوده شوه

### دالوتكي پيلوټ نجيب الله ژوندی نيول شويدی

دارسيدلو اطلاعاتو له مخي داسلامي اردو مجاهدينو دجمعي په ورځ دباد غيس په ولايت كي ددوستم يوه جنگي الوتكه را وغورځوله.

افغان اطلاعاتي آژانس په هرات كي دمسئولو مقاماتو دوياند له (٤) مخ

### په ننگرهار كي دتصفيوي عملياتو په نتيجه كي يوه غټه اندازه وسله لاس ته راغله

دننگرهار ولايت دبهي كوټ په ولسوالي كي داسلامي اردو دتصفيوي عملياتو په نتيجه كي يو څلويښت ميله كلاشنكوف لس ميله لس ډزي، لس ميله شل ډزي، پنځه راكټونه، دوه ميله ورندي ماشينگړي، يوه پايه هشتاد ودو توپ، دري ميله دهشكي، يوه پايه هاوان او دوه سيټه مخابري لاس ته (٤) مخ

### فضل ولي «ناگار» دننگرهار ورځپاڼي مسئول مدير وټاكل شو

دجلال آباد له ښار نه دشريعت اوونيزي خبريال خبر راكړ چې دهيواد نامتو ليكوال، شاعر او اديب فضل ولي ناگار دننگرهار ورځپاڼي دمدير په توگه وټاكل شوي او عملاً يي په كار پيل كړيدي.

دشريعت اوونيزي كاركوونكي محترم «ناگار» ته چې دجهاد په كلونو كي يي په فرهنگي چاروكي ډېر خدمتونه كړيدي په نوي دنده كي دټاكني له امله مباركي وايي او په ورو سپارل شوي مسئوليت كي ورته دلوي خداى څخه برياليتوب غواړي.

## محترم ملامحمد حسن آخند به يوه غونډه كي داقتصادي سكتور دبياورتيا په باب داسلامي دولت اهداف څرگند كړل

په كابل كي دسرپرستي شورا مرستيال محترم ملا محمد حسن آخند دشنبي په ورځ دافغان صنايعو دفابريكي بيلي بيلي برخي وكتلي.

زمونږ خبريال دشريعت غږ راديو په حواله ليكي محترم ملا محمد حسن آخند په هغه غونډه كي چې په نوموړي فابريكه كي جوړه شوي وه ددولت داقتصادي سكتور دبياورتيا په باب (٤) مخ

### په ځاځي ميدان كي د (انار) مؤسسي عمراني پروژې پرانستل شوي

دملگرو ملتو پروژوي دفتر (UN/OPS) په مالي مرسته دخوست ولايت دځاځي ميدان په ولسوالي كي دا لستگيو، هاشم خيلو او تري ورځه داوبو رسولو پروژې چې ددري مياشتي پخوا د«انار» مؤسسي له خوا پيل شوي وي دقرآنكريم (٤) مخ

## دعدليي وزارت سر پرست مولوي نور الدين «ترابي» وويل:

### زمونږ نظامي قطعات داسي فعال دي چې په تيرو حكومتونو كي ساري نه لېدل كېږي

دكابل نه راغلي اداري كميسيون چې مشري يي دعدليي وزارت سر پرست محترم مولوي نورالدين ترابي په غاړه درلوده دقوس په دريمه نيټه يي دننگرهار لومړي غير قول اردو بيلي بيلي برخي وكتلي. په دي وخت كي دقول اردو دقوماندانانو دمسئول مولوي محمد قاسم او دتخنيكي معاونت دعمومي مسئول له خوا ورته په هره برخه كي معلومات وركول شول.

دارسيدلي خبر له مخي په دي كتنه كي مولوي نور الدين ترابي دقول (٤) مخ

## محترم ملا امير خان «متقي» دننگرهار راديو تلويزيون بيلا بيلي برخي وكتلي

داطلاعاتو او كلتور سر پرست وزير محترم ملا امير خان «متقي» دقوس په ۳ نيټه دننگرهار دراديو تلويزيون رياست بيلا بيلي برخي وكتلي چې په هره برخه كي دننگرهار راديو تلويزيون دريئس له خوا معلومات وركول كيدل.

دغه راز محترم اميرخان متقي دتلويزيون په تپه كي دننگرهار دراديو تلويزيون دستگاه وي معاينه كړي. په دي وخت كي دراديو تلويزيون دبيلا بيلو څانگو مسئولين حاضر و او محترم متقي هغوي ته دكارونو دښه والي په باب لازمي لارښووني وكړي.

ديوه بل خبر له مخي محترم ملا امير خان متقي دشنبي په ورځ دكنړ ولايت چاري هم وكتلي. په دي وخت كي دسر پرستي شوړا دمطبوعاتي دفتر رئيس مولوي فقير محمد درويش او يو شمير نور مسئولين هم حاضر وو خبر زياتوي: محترم متقي دكنړ ولايت له سرپرست ملا محمد قاسم اخند سره وكتل او دمربوطو چارو په اړه يي ورسره خبري وكړي.

## محاكم عدلي رژيم هاي گذشته در مورد اموال منقول وغير منقول دولتي وانفرادي بي عدالتي كرده است

### ستره محكمه باشتر اعلاميه اين موضوع را تحت تحقيق قرار داده است

يك اعلاميه ستره محكمه كه از طريق شريعت غږ راديو نشر شده گفته شده است: شكايات عده، زياد از باشندگان كابل حاكي از آنست كه رژيم گذشته كمونستي واداره، ائتلافي رباني در مورد اموال منقول وغير منقول دولتي وانفرادي در محكمه ها بي عدالتي صورت گرفته است.

اعلاميه متذكره مي افزايد: ازهمين سبب ستره محكمه هياتي با صلاحيتي را تحت رياست مولوي حضرت محمد رئيس تفتيش قضايي توظيف كرده است تا امور قضايي كليه محاكم عدلي ولايت كابل را بر رسي وتحقيق نمايد ونظريات خويش را هر چه زود تر به ستره محكمه ارايه نمايد تا درينمورد اقدامات شرعي وقانوني روي دست گرفته شود.

## په ننگرهار كي غصب شوي ځمكي بيرته خپلو مالكانو ته وسپارل شوي

### دغازي آباد دودوهم او څلورم ميكانيزه فارمونو ۲ زره جريبه غصب شوي ځمكه په اجاره وركړل شوه

په ننگرهار كي داسلامي دولت دتينگښت نه وروسته غصب شوي او په زور نيول شوي ځمكي بيرته دهغو مالكانو ته سپارل شويدي.

له بلي خوا دننگرهار ناوي دپراختيا په پروژې پوري مربوط دغازي آباد ددوهم او څلورم نمبر ميكانيزه فارمونو څخه څه دپاسه دېرش زره جريبه ځمكه چې دپخواني حكومت په وخت كي غصب شوي وه سږكال دنوموړي پروژې درياست له خوا دبهي كوټ ولسوالي دخلكو په مرسته خلكوته په اجاره وركړ شويده.

دبهي كوټ ولسوالي امنيه قوماندان په يوه مركه كي ويلي دي. دغه ځمكي يو جريب په شل منه په اجاره وركړ شويدي. ددي ځمكو حاصل دننگرهار ناوي دپراختيا پروژې لوي رياست ته سپارل كيږي. دياد ولو وړ ده چې دتيرو پنځو كلونو حاصل دغاصبانو له خوا وړل كيده.

| | |
|---|---|
| بشري حقونه او دملگرو ملتونو... | ۲مخ |
| دشريعت تبصره | ۲مخ |
| دقدرت لپاره رباني هر... | ۲مخ |

| | |
|---|---|
| داديب ملغلري | ۳مخ |
| په افغانستان كي داسلامي ښوونې... | ۳مخ |
| اسلام وازادي انساني | ص۳ |

## الحاج مولوي احمدجان شريعت اوونيزي سره په مركه كي:

### په ننگرهار كي زيات شمير پخواني قوماندانان تر اسلامي حاكميت لاندي دامن په تينگښت كي مرسته كوي هلته يوه غلا او يو قتل هم نه دي شوي

په مشرقي ولاياتو كي دپخواني اداري له رنگيدو وروسته چې په دغو دريو ولاياتو كي كوم مثبت كارونه شوي او دهغو ولاياتو دخلكو دژوند دلاښه والي او ارامي لپاره كوم گامونه پورته شوي دي دهغو په اړه دشريعت داوونيزي خبريال له محترم مولوي احمد جان سره خصوصي مركه كړي ده چې داده مهم ټكي يي ددرنو لوستونكو مخي ته ږدو: دتورخم نه تر جلال آباد پوري پخواني ټول دولتي محلي ارگانونه او نظامي قطعي چې اووه ولسوالي او شپږ غونډونه كيږي په ننگرهار كي دطالبانو داسلامي (٤ مخ)

## دافغانستان اسلامي دولت دهيواد په بيا ودانولو كي دخپلو هيوادوالو مالي مرستو ته دقدر په سترگه گوري

### دكندهار دزرغوني انا دليسي دوداني او دارالمعلمين دوداني دترميم لپاره دبادوني وړ مرسته شوي ده

### په اروپا كي داوسيدونكو افغانانو يو هيئت به ډير ژر په دي غرض افغانستان ته سفر وكړي چې دطالبانو داسلامي تحريك له مشرانو او داسلامي دولت له مسئولينو سره وگوري

زمونږ خبريال په المان كي له يوه باوري خبر ځاي په حواله خبر را كوي چې په روان عيسوي كال كي دمحترم ملا محمد غوث اخند په مشري چې كوم هيئت اروپا او بيا امريكا ته دافغانانو دكتلو په غرض سفر كړي و، په اروپا او امريكا كي يي زيات شمير اوسيدونكي افغانان دي ته و هڅول چې دهيواد په عمراني او فرهنگي چارو كي فعاله برخه واخلي.

خبر يال زياتوي چې دهمدغو گټورو ليدنو كتنو په نتيجه كي دمحترم امام الدين صافي ميرمني چې پخوايي په هيواد كي دښوونكي دنده په غاړه درلوده په كندهار كي دزرغوني انا لېسي دوداني دترميم لپاره/ ۱۳۰۰۰۰/زره ماركه او (٤ مخ)

## سرمقاله

### افغانان دودېزي په ځاي اسلام غواړي

#### ملگري ملتونه دي له بې ځايه فشارونو او پلمو څخه لاس واخلي

دمهاجرينو دپاره دملگرو ملتونو عالي كمشنري (UNHCR) چې په اصولي توگه دبشري خوا خوږي يو غير سياسي او بي پري بين المللي اورگان دي ويلي دي چې دوي په افغانستان كي په موقت ډول خپل مرستندويه پروگرامونه ددي دپاره بندوي چې دافغانستان داسلامي دولت امنيتي پوليسو ددوي څلورته كاركونكي نيولي دي او تر اوسه پوري يي نه دي خوشي كړي او نه خو يي دهغو په هكله دوي ته معلومات وركړي دي.

خو دافغانستان اسلامي دولت دغه بې ځايه تورونه رد كړي او ويلي يي دي چې دمهاجرينو دپاره دملگرو ملتونو دعالي كميشنري (UNHCR) دغو څلور تنو كاركونكو دمهاجرينو دپاره دعالي كميشنري له حيثيت او ليبل څخه غلطه استفاده كوله او داسلامي دولت په خلاف يي دبښمنانوته دبي سيم مخابرو له لاري نظامي معلومات برابرول چې دا كار كه دمجرمينو خپل عمل وي نو دهيواد په سطحه يو ستر جرم دي او كه دعالي كميشنري په خوښه وي نو دملگرو ملتونو دبي پري حيثيت په خلاف يو غير قانوني او غير اخلاقي عمل دي چې دملگرو ملتونو دمهاجرينو دعالي كميشنري بي پري والي تر پوښتني لاندي راولي او (۲) مخ


هيڅا ته به اجازه ور نكړو چې دخپلو شومو مقصدونو دترلاسه كولو په خاطر زمونږ كړيدلي ملت نور هم وكړوي

# شریعت

دامتیاز خاوند : دافغانستان دطالبانو اسلامي تحریک
دتأسیس کال : ١٣٧٤ هـ ش
: د لیکوال هیئت ترګتنې لاندې
مسئول مدیر : مولوي احمد جان
ټیلیفون : ٨٤٠٣٧٨
آدرس : په پېښور کې دطالبانو داسلامي تحریک قاښدګي
دیوې ګڼې بیه : په هیواد کې (٥٠٠) افغانۍ
: په پاکستان کې (٣) کلداري


## د سرمقالې پاڼې برخه

دا ثابته شوې چې دغه مؤسسه نه غواړي چې په افغانستان کې سوله، ارامي او یو مرکزي اسلامي حکومت را منځ ته شي، دوی غواړي دملګرو ملتونو بشري مرستې دسیاسي اهدافو دپاره دافغانستان داسلامي دولت په خلاف دوسلې په توګه استعمال کړي او سخالفینو ته په نظامي او سیاسي لحاظ موقع برابره کړي چې دولت کمزوری او په هیواد کې بوګلی بیا ګډ وډي، بې امنیتي، ظلم او زور، فساد او لوټماري را مینځ ته کړي، څو وکولاېشي یو ګلي بیا افغانستان په بشپړه توګه بې سیکه او اسلامي جهاد او مسلمانان داسې بد نام کړي چې نور بې په نوم احسناو سره خلك نفرت وکړي. او په دې توګه په افغانستان کې دلا ملحده الحادي عناصرو دپاره دواك تر لاسه کولو زمینه برابره کړي او دافغانستان اسلامي جهاد دښا له لوري په چاړو ووهي، دازاد افغانستان په ځاي داستعماري ځواکونو غلام سیکولر لخیر اسلامي افغانستان را مینځ ته کړي.

دملګرو ملتونو دعمومي منشي دځانګړي قاینده واکتر هول هغه وینا وې چې کابل دغیر نظامي شي او دطالبانو اسلامي تحریك دکابل پرېږدي. دمهاجرینو دپاره دعالي کمیشنري دموجودو پریکړو سره یوه همغږې او همفکره اقدامات پکاره کیږي چې دافغانستان په اسلامي دولت باندې خپل فشارونه زیات کړي، قدرت دطالبانو داسلامي تحریك له لاسه څخه وباسي او په ځاي یې لوېدیځ پلوه سیکولر ملحد او بې دینه عناصر په دې نوم را مینځ ته کړي چې ګواکې غیري بې طرف او بې پرې دي.

دمهاجرینو دپاره دملګرو ملتونو عالي کمیشنري ته به په یادوي هغه وخت چې روسي ځواکونه له افغانستان څخه ووتل او دلوېدیځ خپل اهداف تر سره شول، نو دنجیب دکمونیستي او ملحد رژیم په ګټه یې په پاکستان کې مهاجرین دزیاتو مالي امتیازاتو په بدل کې وطن ته دیبرته ستنیدو دپاره هڅول، په داسې حال کې چې دافغانستان مسلمانانو خلکو دکمونیزم په خلاف داسلامي دولت دجوړېدو په خاطر یونیم میلیون شهیدان ورکړي وو. دمهاجرینو دپاره عالي کمیشنري (UNHCR) غوښتل په دغه عمل سره هغه وخت جهادي ځواکونه تجرید کړي او قدرت دمسلمانانو په ځاي ددوي په اصطلاح بې طرفه لوېدیځ پلوه سیکولرانو ته وسپاري چې داستعماري ځواکونو غلامان او داسلام او آزاد افغانستان سر سخت دښمنان دي. خو کله چې یې ونکړایشول خپل دغه بد مرغه اهداف تر لاسه کړي، په هیواد کې یې دخپل منځي جګړو، لوټماري او هر ډول بې امنیتي داراسولو په ځاي دانتظار کولو په پالیسي خپله کړه او دمهاجرینو دابیرته ستنیدلو هغه پروسه چې دنجیب په وخت کې یې په ډیرو زیاتو مصارفو باندې پیل کړې وه سرته سره کړه، پلمې او بهانې به یې کولې چې په هیواد کې امنیت نشته او مرسته کوونکي هیوادونه اوس مرسته نه کوي.

نن چې دطالبانو داسلامي تحریك دبا ایانه او بانقوي مجاهدینو دقربانیو په برکت په ٧٥ ٪ افغانستان کې سوله او امنیت را مینځ ته شوی او خلك په بشپړه ډاډ او اطمینان سره خپل ژوند ته په ډیره خوشحالي سره دوام ورکوي او هیواد دباچاګردي په ځاي دیوه مرکزي اسلامي حکومت په لور په تیزي سره روان دی. دملګرو ملتونو مؤسسه دافغانستان اسلامي دولت په رسمیت نه پیژني، کله یونیسف او کله هم دمهاجرینو دپاره عالي کمیشنري (UNHCR) خپلې مرستې په بې وزله افغانانو باندې په یوه اوبله بهانه باندې بندوي څو په افغانستان کې دیوه واقعي اسلامي دولت دجوړیدلو مخه ونیسي.

(٤٤) مح

## د شریعت تبصره

# د طالبانو اسلامي تحریك دبیطرفه ملي قوت په توګه

له هغې ورځې څخه چې په افغانستان کې کمونستي واکمني را وپرزیدله او پر ځاي یې دجهادي قوتونو په ګډون یوه مخلوطه اداره را منځ ته شوه، نو وروسته جوخت دهیواد سیاسي او نظامي حالات دخرابي ښکارشول او خبره دې حدته ورسیده چې دمرګ ژوبلې او دهیواد دتباهي اندازه له کنترول څخه ووتله، نو په دغه شان ویجاړوونکو او تباه کوونکو حالاتو کې یوه داسې مثبت حرکت ته ضرورت و چې دهغه په نتیجه کې دهیواد دتباهي او بربادي ددوام مخه ونیوله شي.

ددغو خواشینوونکو حالاتو په جریان کې په ملي او بین المللي سطحه دحالاتو دکنترول په غرض بیل بیل او ډول ډول نظریات او پیشنهادونه موجود وو، خو ددې ټولو نظریاتو او پیشنهادونو په سرکې دیوه بې طرفه اسلامي ملي قوت پر ضرورت ټینګار کیده او داسې فکر موجود و چې کله دغه شان یو اسلامي ملي بې طرفه قوت را منځ ته شي ددې امکان په لاس ته را شي چې ددغو خونړیو پېښو او جریانونو ددوام مخه ونیوله شي، په دې نظریاتو کې ځینو تحلیل ګرانو دملګرو ملتونو دیوځ دراتیږلو په اړه هم فکر کاوه او داسې نتیجه ګیري کیدله چې که چیري دملګرو ملتونو په مالي مرسته له افغانانو څخه یو بیطرفه پوځ جوړشي او بیا هماغه پوځ ددښمنو ډلو تر منځ دحایل ځواك په توګه وظیفه تر لاسه کړي، نو دا به دمسئلې په حل کې مرسته وکړي او بیا به همدغه دملګرو ملتونو په مالي مرسته جوړشوي پوځ په هیواد کې دوسلې دراټولولو پروسه هم پر مخ بیا یې او په دې توګه به په هیواد کې ویشل شوي سیکه او درنده وسله له بیلو بیلو ګروپونو څخه را ټوله او یوه مرکزي قوت ته به وسپارله شي.

دهمدغه نظریاتو او پیشنهادونو په بهیر کې دملت له منځ څخه دطالبانو اسلامي تحریك را پورته شو او دیوه بې طرفه اسلامي ملي قوت په توګه یې پر ته له دې چې دچا په مالي او نظامي مرسته تکیه ولري ددښمنو ډلو دبې وسلې کولو او په هیواد کې دیوه مرکزي حکومت دجوړیدو لپاره دلارې اوارولو په غرض په لاس، خو دلوي خداي (ج) په مرسته او دمسلمان ملت په بې دریغه همکاري هغه درنده وظیفه په غاړه واخیستله چې په ملي او بین المللي سطحه تحلیل ګران او سیاسي څارونکي پکې عاجز پاتې وو.

دطالبانو اسلامي تحریك دخپلو اسلامي هلو ځلو دپیل په همدغو لومړیو شیبو کې خپل مسلمان ملت ته په ډاګه کړه چې دوي دسیاسي قدرت لپاره مبارزه نه کوي بلکې غواړي ملت ته له هغه بحران څخه نجات ورکړي چې په سیاسي او اجتماعي لحاظ ورسره لاس او ګریوان دي، دطالبانو اسلامي تحریك پر ته له کومو ملحوظاتو او ګرایشونو څخه وکړای شول په ډیره لږه موده کې دملت غوښتنو ته ځواب ووايي، دخپلو رښتینو او جوړوونکو

## بشري حقونه او دملګرو ملتونو دوه مخي

دملګرو ملتونو مؤسسې ته یوه تنقیدي کتنه

مولوي عبدالحکیم «مجاهد» — اوولسمه برخه

### دښځو په اړوند دملګرو ملتونو لوېدیځ پلوه الحادي رویه !!

دملګرو ملتونو مؤسسه چې ددوهمې نړیوالې جګړې په نتیجه کې [illegible] دلوېدیځ هیوادونو [illegible] ١٩٤٥ م کال کې را منځ ته شوه او اسلامي هیوادونه وروسته دغې سرې غړي ګرځیدلي دي، ددغې مؤسسې منشور (Charter) او دانساني حقونو اعلامیه هم دغربي دسیکولر الحادي افکارو په پیروي او لارښونه ترتیب او په وړاندې ایښودل شوي [illegible]

[illegible]

## دقدرت لپاره رباني هر اسلام ضد عمل ته تیار دی

### په اروپا کښې دهغه فعالیتونه دجهاد په خلاف یوه بله دسیسه ده

محمد حسن «حقیار»

[illegible]

حسي آزادي له کبله دنړېدلو په ځال کې دي، زیاتره مېشومان بې نکاح پیدا کیږي او یا خو له نکاح نه مخکې دملګرتیا په تجربوي مرحله کې تولد کیږي چې اوس په اروپايي هیوادونو کې دبې پلاره ماشومانو شمیره له پلار لرونکي ماشومانو څخه ډېره ده. دغربي سوات په نتیجه کې هغه دبې حیايي کارونه چې پخوا به دنړو دپاره دشرم وړ وو اوس دښځو دپاره دشرم وړ نه بلل کیږي.

ت:- دلوېدیځ دسرمایه داري او صنعتي انقلاب داستعماري او استثماري ظلمونو په نتیجه کې چې نه یې شواي کولاي یوه کورنۍ خپل ورځني مصارف دنر په لږه اجوره باندې پوره کړي، ښځه یې هم له کور څخه دبیسو ګټلو دپاره کارته را وایستله او په دې توګه یې ورو ورو په ښځه کې داقتصادي استقلال روحیه پیدا کړه او بالاخره یې په مالي لحاظ له خپل میړه څخه بې پروا کړه [illegible]

[illegible]

(٤١ مح)

## مجاهد طالبه!

عبدالرحيم «ثاقب»

مجاهد طالبه نپوهيږم ستا له ښکلي نوم او اسلامي شخصيت نه څرنګه تعبير وکړم. آيا تا دهيواد دمعاصر پيښه ليك دواقعي استقلال رښتيني قهرمان وبولم او که داسلامي سولې او ورور ولي دراوستلو نو ميالي قاصد؟

نپوهيږم تاته داسلامي انقلاب دنيمه خوا شهيدانو دنيمګړو ارمانونو رښتيني پوره کوونکي ؤوايم او که په هيواد کې ديو سوچه اسلامي نظام دپلي کيدو شانداره سمبول.

خو فکر کوم چه ستا دبشاشي مغلومي څېري معرفي او پيژند ګلوي ته کوم ضرورت نشته ځکه دهيواد هر وګړي ستاله نوم او شخصيت سره پوره آشنادي او له هغه سره زياته مينه لري، ستا ښکلي نوم له خپلو ټولو ارزښتونو سره سره ژمونږ په افغاني ټولنه کښې دمذهبي قداست او سپيڅلتيا وياړ هم تر لاسه کړي.

ستا جهاد او فدا کاري ستا تقوی او ديانداري ستا شفقت او خواخوږي هر چاته معلومه ده ته که په کور کښې يې دنبوي اخلاقو يو مجسمه نمونه يې که په جمات کښې يې دخلکو امام يې که په کلي کښې يې امر بالمعروف درته ويل کيږي که په سنګر کې يې دشهادت او سرښندنې اتل يې او که دآمريت او مسئوليت په مقام کې يې دخلکو واقعي خدمت ګار بلل کيږي.

طالبه وروره! ته هم دمونږ داسلامي انقلاب دارمانجنو شهيدانو دقافلي يو زيرك لاروي ئي، لتاته مخکني پدې لاره په لکونو غيرتي شهيدانو مخونه په سر وکښلو پټ کړي او مقدس آرمانونه ئي همداسې نيمګړي پاتي شوي دهغوي ټولي تازګي هيلې دنفاق او اختلاف په سوځنده اورکي ټولي خاوري ايري شوي. هغوي ئن دلحد له تورو ديوالونه په سر وکښلو کی ستا لوري ته داميد سترګي نيولې. دهغوي پاتي سپيره مخي او وچ شونډي پتمان پتا ډاډه دي دهغوي دتور سرو کونډو لاسونو هم ئن ستا ګريوان ته در لوېدلي تو اي دمظلومانو او بې وزلانو دزړه قرار طالبه!

هيله ده دهمدي محرومانو هيلي او اميدونه له فکر ونه غورځوي او ديوره کولو لپاره ئي نور هم ديري په لور دهنګ عزم متين ګامونه اوچت کړي.

پدي لار کی دي خداي بريالي او برين لره.

## د ادب ملغلري

## دشهيد ويته

حنيفه زاهد «شاه جوئي»

وينه دشهيد يم قدر دانه دجهان يم
نښه دغيرت يم نمونه دټينګ ايمان يم
زه مړه شو بوږږو لره إلهام دنوي ژوند بښم
چيغه دپاخون يم غښتلي دميدان يم
ملا دطاغوتيانو مي کړه ماته، ماتوم ئي لا
زه دغليم کورباندي راغلي خړ طوفان يم
زه دخپل ټاټوبي په خدمت کی بريالي يم
توي شومه پر ځمکه پورته شوي په آسمان يم
زه دخپلواکي دهدفونو مبارزه يم
رُعب په دښمن يم دمنګرو دزړه توان يم
ياد مي په تاريخ کی په زرينو کرښو کښلي دي
ژوند مي ابدي دي افتخار دمسلمان يم
ښکارمه ګلګونه نوبهار دلوړهمت مي ده
زه سمسوروونکی دخپلواکه ګلستان يم
وګوره زاهده! مستانه دشهادت يم
خوښه يم چي ډوبه په رحمت کی دسبحان يم
شاه جوي «۱۳۷۵/۸/۱ هـ ش»

## راشه راشه!!

«لوګري»

راشه راشه چي ټپونه درښکاره کړو
داګرم کړم زخمونه درښکاره کړو
خومره سري ګولې مو بچي شوي سينه کې
سره په وينو ير هرينه درښکاره کړو
ستادلاسه مو ودان کړ رونه وران شول
دلته وران وبجاړ کورونه درښکاره کړو
ستا دلاسه توري شپې په مور حوري شوي
داتيارې او تور غمونه در ښکاره کړو
خومره ښندي مو شوي پوري ستا دلاسه
داد تورو ځور يرونه درښکاره کړو
خومره خوانی مارګي موږ لي کوڅي
ددوی خاوري اميدونه درښکاره کړو
داخوستا دلاس نيا لګي وو محترمه!
اوس راځه دلته نيا لونه درښکاره کړو
چي ئې ټاپه ميته نيته حسانه کړه
راشه اوس ئې وحشونه درښکاره کړو
راشه راشه انه سدارۍ ددې نيولو
رواځه چي ايانونه درښکاره کړو
الوګري! به ګرم د زړه درباندي مخ کړي
وايي راشه تاوده رپونه درښکاره کړو

## دخوب تعبير

محمد حسن «حقيار»

ياد ستا بوګنون زمه تعبير دخوب
وي ليد په ويښه خيال تصور ...
ګل مي له ښکولو رقيب ...
...
... هجر شنه صبح ... لري
... که شومه زه دومره اسير دخوب
ناويل ويښي دستاوون به وي
پندي شوي جذبي مي په تذويره خوب
ذهن جسم دواړه دمسلم ويده
درولډمي داسي ونه ليد نظير دخوب
يو په خپاره شوه دماشوم ارمان
خلکو دامي وبولي، تاثير دخوب
... جي مي خيال په غزوتوشي
... احساس مي په ځنځير دخوب
... شوي ... دښکلاته زور
... همي شوګير دخوب
شوچي ... احساس
... تقدير دخوب
... (حقيار) ... دخوبيي ...
... تعبير دخوب

## غزل

ملا اسدالله «حنيفي»

[illegible]

## دنجابت په ته

[illegible]

## ننګرهارته

دمحمد حسن حقيار انتخاب

زمــــا ګلرنګه ننګرهاره لاله زار دې وي
چی شد وېي، دريه کښی اوسی تل بهار دې وي

ستــا ورشــو ګــانې دې رنګينې وي دتل لپـــاره
دخپل شپونکی خپلی رمی دزړه قرار دې وي

ستا ګل بڼونه دې سمـــور وي ننګرهاره زمـا
دبلبـــــلانو دسندرو دچغـــــار دې وي

ستا دنارنج ګلان دې ګل وي پسې ګل وي ګل وي
دهر شاعـر دهر اديب زيب دګـفتـار دې وي

پس له کلونو نه درځم ســـتـا ګلبڼو نو لره
دلري برې پښتونخـوا دغـاړې هار دې وي

دآزادی بهـار دې لمانځـو شپه په مينه مينه
دمسلمـانو پښتنو دافـتـخـار دې وي

د(حنيـفی) دزړه قــرار دزړه سکون يې ګــرانه
دمينې کـور دهر مين دهر مـاليـار دې وي

## په افغانستان کې داسلامي ښوونې او روزنې دمرکزونو تاريخي سير

ليکوال: «هاشمي»

### له خپلواکي څخه دثور تر کودتا پوري (۱۲۹۸ هـ ش – ۱۳۵۷ هـ ش)

په افغانستان کی ددينې ښوونې او روزنې دغه شپيته کلن بهير چې په تاريخي لحاظ يکی داامان الله خان (۱۲۹۸ - ۱۳۰۷ هـ ش)، حبيب الله کلکاني (دسقاوزوي) (۱۳۰۷ - ۱۳۰۸ هـ ش) محمد نادر خان (۱۳۰۸ - ۱۳۱۲ هـ ش) محمد ظاهر شاه (۱۳۱۲-۱۳۵۲ هـ ش) او محمد داؤد خان (۱۳۵۳-۱۳۵۷ هـ ش) دواکمنيو دوری شاملي دي، په دوو ستر و برخو ويشو:

الف:- رسمي ديني ښوونه او روزنه.

ب:- غير رسمي ديني ښوونه او روزنه.

چی دلته دهرې برخې دعليمي سيستم په څرنګوالي او ددينې ښوونې او روزنې دمرکزونو په تاريخي سير ئنو بحث کوو:

الف:- ددينې ښوونې او روزنې رسمي مرکزونه.

دښوونې او روزنې دغه رسمي مرکزونه په واقعيت کی هماغه ديني مدرسي او دار الحفاظونه دي، چي زمونږ دهيواد په بيلا بيلو ولايتونو کي دسيمو دخلکو په مالي مرستو جوړ شوي وو.

او بيا وروسته دوخت دحکومتونو دپاملرني وړ ګرځيدلي او دهغوی لګښتونه يې په خپله غاړه اخيستي دي. البته تر رسمي کيدلو وروسته بيا دوخت دشرايطو په پام کي نيولو سره ددغو ديني تعليمي مرکزونو په درسي نصابونو کي بدلون هم راغلي دي پر اصلي او مسلکي ديني مضامينو بر سيره يې په درسي نصاب کي ځيني عصري علوم، ژبې (پښتو، دري او انګليسي) شامل شول. ترڅو زده کوونکي ددينې پوهې تر څنګ دعصري علومو او دهيواد دادبياتو او تاريخ په هکله هم معلومات ترلاسه کړي. همدارنګه يې ...

... په سيستم کی هم ... د... مدرسي ... عصري ... دغه رسمي ديني مرکزونه له پيل څخه ... روزني او ... ته په ... دتاوي ... په زياته پوري مربوط ... په ۱۳۴۲ هـ ش کال دغه وخت ديوهني دوزارت دمسلکي تدريساتو درياست په تشکيلاتو کی دديني مدارسو عصري مديريت (په دريم ... ) را مينځ ته شو چي دهيواد ټول ديني رسمي تعليمي مرکزونه (دار الحفاظونه او مدرسي) په هغه پوري مربوط شول. ځ وخت وروسته بيا ددينې مدارسو عمومي مديريت له مسلکي تدريساتو څخه جلا ... دښوونې او روزنې په رياست پوري ... شو، چي تر ۱۳۵۷ هجري شمسي کال (دثور ترخونړی کودتا) پوري په همدې رياست پوري مربوط و.

دهيواد ددينې ښوونې او روزنې په رسمي مرکزونو کی ددينې علومو زده کړه په دريو تعليمي دورو وېشل شوي وه:

۱- لومړنی دوره (دار الحفاظ)

۲- ... دوره (مدرسه)

۳- ... دوره (... مدرسي او ... )

چي دلته هره تعليمي دوره او په هغه پوري مربوط ددينې ښوونې او روزنې رسمي مرکزونه درپيژنو:

۱- لومړنی يا ابتدائيه دوره (دار الحفاظ)

ديوهني وزارت له خوا دار الحفاظ ددينې مدارسو دابتدائي دورې په توګه وټاکل شول. ددينې ښوونې او روزنې دغه رسمي مرکزونو کی ددينې زده کړو دوره په لومړي ... کی ... سوونځو په خو ... کاله وه کله چې په ۱۳۵٤ هجري لمريز کال کی ... روزنې په سيستم کی بدلون راغی او ... کړي لومړني دوره اته کاله شوه په ... الحفاظونو کی هم دزده کړي دوره اته کاله شوه. ددغې دورې درسي پروګرام دامي ... او ... دهغې ... ټاکل ... زده کوونکي ... په کلنه موده کی ... حفظ ... لومړنيو ديني علومو ... او ټولنيزو علومو او دهيواد له ادبياتو سره هم پيژند ګلوي پيدا کړي او به پښتو يا فارسي ليکل او لوستل وکړاي شي او ددې تر څنګ دلوړو ديني زده کړو له پاره ... شي. له غير رسمي دار الحفاظونو ...

[illegible]

## اسلام وآزادي انساني

تتبع ونګارش «مولانا زاده»

پيوسته به ګذشته

وزندګی مشترك اختيار نمايند. از آنجاييکه ترقي وتمدن يکجامعه بانسانيت مربوط است وجامعه ايکه هر فرد در آن حصه بګيرد به صنايع آلات وکثرت سال تعلق ندارد وفرد نيز تا وقتي در ترقي وتمدن يکجامعه سهمي نخواهد ګرفت که از يکطرف اراده متين وحريت انساني کسانې نکرده باشد واز جانب ديګر حريت وآزاديش را در راهي استعمال نکرده باشد که ديګري از آن ضرر بدني ومالي ديده وخود مصدر خير نګرديده باشد. پيغام الهي وارشادات اسلامي چراغ روشن تشخيص اين حدود را بدست انسان ميدهد وبسوي يکجامعه مترقي انساني وتمدن بشري سوقش ميکند.

۳- آزادي فکر: - شکی نيست که انسان برحسب خصلت وخاصيت فطري وطبعيش فکر ميکند که يا ... براي انسان موجود زنده فکر ميباشد وفکرش حظ ونشاط دارد بسخن اينجاست که فکر انسان بکدام طرفي متوجه است! بسوي ترقي وتعالي ويا بطرف پستي وسرافګندګی، بسوي تحصيل علم ويا فرار از علم، بسوي نيکی ويا بدي، بسوي عمران وآبادي ويا بطرف تخريب وويراني؟

انسانان مطابق به همين اختلافات فکري مختلف ومتفاوتند. اختلاف ايشان نه اختلاف طبيعي است ونه در نشاط وسرور فکري بلکه در توجه ورو کردن همين فکر نزد شان اختلاف است. آنانيکه آبادي ميخواهند يا ويراني وتخريب مخالفند.

اسلام خود فکر انساني را تائيد مينمايد وجلو آنرا نميګيرد، چه خدا ييکه پيغام اسلامي را نازل فرموده همين طبيعت انساني را نيز خلق فرموده که نشاط فکري دارد. پس اسلام را مطابق همين طبيعت نازل فرموده است. ليکن در برابر فکر انساني اسلام ... ديګري هم دارد وآن اينکه انراهي را ... نشان ميدهد که فکرش را در ... بکار اندازد واين همان راهي است که هر پيچ وتاب نيت وجايز وناجايز وحرام وحلال در آن ظاهر وعلامه ګذاري شده است وخاروجنجال ندارد. لذا انسان در قسمت آزادي فکر موقفي اتخاذ کرده که از جانب وطرف طبيعت انساني ګرفته بود، هنګاميکه اسلام اينحرف پر اخلاص خودش را در جلو احتمال انسان ميګذارد که نه بخود ضرر رساند ونه بديګري. با اينحرف جلو حريت فکري اورا نميګيرد، بلکه راهي را باو نشان ميدهد که اګر انرا تعقيب کند از آن نتيجه مثبتي بدست مياورد وتعمير زندګي را آباد مينمايد.

در معاملاتش خوش معامله ميګردد وخود مسرور، مطمئن وخوش بخت ميشود وبا کدام خجالت وجداني هيچوقتي مواجه نميګردد، بنابر آن انسان از نظر اسلام مکلف است که فکر کند. فکري که مفيد ونافع باشد نه آنکه غير مفيد ومضر تمام شود. چنان فکري کند که هم خودش وهم ديګري را از ضرر نجات دهد. تفکر بآنچيزهاييکه بخودش ضرر ميرساند عبارت است از قمار بازي، شرابخوري که بچه طريقي بآن اقدام کند. ويا فکر کردن به ضرر رسانيدن بديګران مانند بچه ترتيبي بر مسکن وخانه ديګري حمله کند ويا بچه طريقي مظلومي را مغلوب ومقهور سازد، چه قسم مال کسي را بخورد ويا آبرويش را بريزد اين هردو جوانب نشاط فکري است که اسلام هر دو را نمي پسندد وبديده نفرت بان ميګرد رسول الله (ص) ميفرمايد: «ثواب اعمال مربوط به نيات است وبهر کسي طبق نيتش جزا ويا پاداش داده ميشود». چون نيت وقصد بدون فکر امکان ندارد، لذا رسول الله قبل از آنکه فکر بميدان عمل پياده شود همان درجه ايرا برايش ميدهد که در زندګي برای عمل کرده است پس فکر وقصد ... عمل بد وفکر وقصد خوب بالذات در حکم عمل نيك وخوب است. اين ارشاد نبوي ما را ملتفت ميسازد که اسلام فکر ونيت بد را بنظر نفرت مي بيند واز آغاز ميخواهد که انسان فکرش را بسوي کار خوب ونيك بچرخاند.

همچنان در اسلام احکام حرام وحلال بخاطري صادر نشده که نشاط فکري انسانرا جلو ګيرد. بلکه سخن بخاطريست که روي فکر انساني را بسوي خوبي ونيکي بر ګرداند، بهمين ترتيب اسلام ميخواهد که انسان موجوديت خودش را بدست اورد ولي از آن طريقي که با طبيعتش موافق باشد. در اينجا بايد ملتفت اين سخن شويم که اين موجوديتی را که اسلام براي انسان ميخواهد باموجوديتي که در اينزمان بعضي از جوانان نارسيده بنام فلسفه در ميان مردم پخش ميکنند وآزادي (خود سري) مغاير ارزشهاي انسان را بي با ګانه قلمداد مينمايند با ارزشهاي انساني فرق زيادي دارد چه اينموجوديت اسلامي انسانرا بمقام متعالي ميرساند والديګري از پس پسترش ميسازد.

اسلام ميخواهد که انسان باينفکر بيفتند که چګونه ارتقا ميتواند يافت. چګونه علم ميتواند اموخت وبچه قسم ذخيره علمي خود را زياد ميتواند نمود؟ نه اينکه چه قسم از علم فرار بايد کرد واز کمك به سوي معرفت قدم بايد کشيد، چه قسم با مردم خوبي ونيکي بايد کرد؟ نه اينکه چه قسم بردم ضرر بايد رساند ...

چګونه براي خودش وجامعه اش مفيد واقع خواهد شد وچه عمران وآبادي مي کرد، نه اينکه چه قسم خود وجامعه را تباه وبرباد فنا بايد داد؟!! ازاينکه تفصيل دعوت اسلامي فلسفه وجودي غرض اندا... قوه ورواج يافت ودرحال حاضر مردم زيادي خود سرانه بهر نوع امور خلاف انسانيت دست بازي ميکنند، دليل اين ميتواند شد که شايد از فلسفه (فلسفه وجودي) بحقيقت نرديد وبنفع مردم است، بلکه دليل آن اينستکه قسمت زيادي از انسانان القدر به بازيهاي خلافانه وکودکانه مست ومشغول اند که نميخواهند برشد انساني برسند ووجود طفلي وکودکي شان بوجود انساني عوض وتبديل شود واين صحنه عيش ونوش شان ... والاي انساني را استعمال کند واز ... نميخواهند وضع طفلانه شانرا ... تبديل نمايند ... خدمت شان بعد اورده شود ... هيچکسي را ... طرفدار عيش ونوش بود، وميخواهند در برابر سختيها بايستند ومقاومت کنند ... تکليف وزحمت ... حقيقت بازندګی علاقه ندارند ...

[illegible]

## دسرمقالي پاتې برخه

دمهاجرينو دپاره دعالي كميشنري عادي كاركونكي هيڅ راز سياسي، قانوني او قضايي مصئونيت نه لري، دوي بايد دهيواد دقوانينو سره سم كار وكړي او داسلامي قانون او اسلامي دولت خلاف كارونه دي نه كوي او كه هغوي په غير قانوني او غير اسلامي اعمالو باندي لاس پوري كړي او اسلامي دولت هغه دقانون منګولوته وسپاري دمهاجرينو عالي كميشنري هيڅ حق نه لري چي دهغو دقانون څخه داستثنى او يا لورتيا غوښتنه وكړي، دا دول غوښتني دټولو بين المللي

نورمتو او اصولو په خلاف عمل دي چي (UNHCR) له هغه څخه بايد ډډه وكړي او له افغانانو سره دي دخپل غرغوني رزاقي سلوك او روېي څخه لاس واخلي، خپلي پلمي او بهانې دي پايته ورسوي څو خپله بي طرفي ثابته كړي. دمهاجرينو دپاره دملګرو ملتونو عالي كميشنري او خپله ملګري ملتونه بايد په دي باندي پوهه شي چي دافغانستان با ايمانه او غيرتي مسلمان د دوي په ځاي اسلام اواسلامي حكومت غواړي.

## بشري حقونه او...

نازك لباس اغوستل سرخي او سفيدي استعمالول، دسرويستان په مختلفو شكلونو جوړول ... په كار واچولي خو ژړه بي وړباندي سوړنه شو.

بالآخره بي دځان په لوڅولو باندي پيل وكړ او اوس دجامو دبالكل لري كولو ميلان دفرانس او لويديځ په نورو هيوادونو كي دنر او ښځي له خوا مخ په زياتيدلو دي. چي غربي ورځپاڼي، مجلي، راديوګاني، تيلويژنونه دخپلو فاسدو فاحشو او لوڅو خپرونو له لاري له دوي سره په دي كي مرسته كوي.

ملګري ملتونه ددي په ځاي چي ددغه تباه كونكي غير فطري غربي كلتوري سيلاب مخه ونيسي او ښځي ته په ټولنه كي دوقار او اپرو، عزت او كرامت مقام وركړي، دوي غواړي ښځه نوره هم دفحشا او فساد مركزونو ته ور ټيله كړي دانساني كرامت له مذهبي او ديني سيبځلي چاپيرال څخه بي دباندي وباسي او دبي ديني او الحاد په منګلو كي بي وركړي. شمس الدين رحماني دخپل كتاب په ٦٥ مخ كي ليكي: «دمختلفو هيوادونو ددولتي لوړو مقاماتو او كاريګري اتحاديو دنمايندګانو ٣٦ تنه پوهانو دجنيو په ښار كي په ١٣٥٧/٧/٥هـ كال كي غونډه وكړه چي دښځي له مخي دښځو دكار دمنع

كولو موضوع بحث كړي او خپل افكار او نظريات دملګرو ملتونو دمؤسسي عمومي منشي ته وړاندي كړي... دكار بين المللي دفتر په خپل رپوټ كي په ډاګه كړه چي داسي اصول او قوانين بايد وضع شي چي ښځي ... په ټولو هيوادونو كي دشپي له مخي په ځانګړي توګه په كارخانو او خدماتي مركزونو كي له كار څخه منع شي. البته روغتونو ته، رستورانونه، شرابخاني، تياترونه او لوبو مركزونه بايد له دغو اصولو او قوانينو څخه مستثنى وي... » مطلب داچي ښځي كه دخپل اقتصادي مشكل له كبله په كارخانو او خدماتي مركزونو كي دشپي له مخي كاركوي، ددوي دعزت دساتلو په خاطر بايد دوي له كار څخه منع شي، خو دشپي په مخه په رستوران، شرابخانه، او تياتر كي كار كول دښځو دپاره پروانه لري. له دغه رپوټ څخه په ښكاره سره څرګنديږي چي ملګري ملتونه اصلاً دښځي دپت او عزت په غم كي نه دي، بلكي غواړي چي ښځي دفحشا او فساد مركزونو ته تشويق كړي او دسرمايه دارانو اوعياشانو دعياشي او فحاشي سامان او وسيله بي وګرزوي او په ټولنه كي بي حيايي او عرياني ته وده وركړي.

## اسلام وآزادي...

يك كمال مطلق را بفكر بياورد وقبولش كند، زيرا چنين فكري ازيكطرف تمركز فكري ميخواهد واز طرف ديگري موجب آنستكه فكر انسان محض تحت تاثر محسوسات قرار نگيرد وتمركز واجتماع فكر وبيرون نمودن آن از زير تأثير ديگر موثرات كار آن انساني است كه قدرت عقل دارد ودر موقع تفكر محكوم خواهشات خودش نميگردد. للذا اسلام كه انسانرا بسوي باور وايمان بخدا نميخواند فكر انساني را بهمين سو ميكشاند ودعوتش ميدهد واين دعوت هم خواهان آنستكه انسان عقل خودش را از زير تسلط خواهشهاي نفساني بيرون كند، فكر انساني را بكار اندازد.

قرآن در مورد هدايت ميفرمايد: «هنگاميكه بايشان گفته شود كه پيروي قرآن منزل خدا را نماييد، جواب ميدهند كه ما پيرو آنچه استيم كه پدران ونياكان ما بوده اند. آيا ايشان پيروي آنانيرا ميكنند كه نه چيزيرا بقدرت عقل وفكر خود ميدانستند ونه راه راستي را يافته بودند؟...». در زندگى اينهمه واقعيت نداشته كه انسان هر چيزيرا بقدرت عقل وفكر خود بشناسد وخوب وبد را ازهم تفكيك نمايد چه اگر چنين ميبود قوانين وضع نميگرديد ومردم براه فسا دوفتنه نميرفتند وچون امروز مضطرب وپريشان نميشدند. اينهمه مظاهر بزرگ نارسائي فكري است وازهمين جهت فكر انساني انسانرا از هدايت خداوندي مستغني نه ساخته است چه اين هدايت براي ترجيه واستقامت فكر انساني است. هرگاه در فهم كتاب الهى گاه ناگاه براي انسان مشكلاتي رونما ميگردد. اين مشكلات نقص كتاب الهى نيست بلكه همين مظهر وتصور فكر توجيه كننده ميباشد كه بمطلب وضح كتاب الهى فكر و مغزش كار نميكند. خداي پاك ميفرمايد: «وما قرآن را چنان نوري گردانيده ايم كه هر كه آنرا مشعل راه خويش گرداند اورا براه راست رهنمائي ميكنيم.»

٤- حريت عمل وسلوك:- شكي نيست كه انسان بحكم طبيعت انساني در حركت وتصرف خودش آزاداست وميتواند

متكبرانه رفتار كند ويا متواضع وكمينه باشد. بصداي بلند حرف بزند ويا آهسته زبان بكلام بگشايد، مصرفانه خرج كند ويا ممسكانه وبخيلانه، از مردم جدا زندگي كند ويا در اجتماع زندگى باعيش ونوش داشته باشد ويا از چيزهاي لذت بخش رو گرداند؟ امثال اين اعمال انساني كه انسان از طريق طبيعت ميتواند انجام داد؟ انسان در همه، اين عمال آزاد است، زيرا او انساني است كه اراده وفكر دارد او مطابق فكر خودش واراده خودش راه حل مشكلات را جستجو مينمايد و باز بفكر واراده خودش اقدامي بعمل ميآورد، اين انسان چون ساير زنده جانها محكوم غرايزش نيست كه بي اختيار به يكطرف حركت كند. پس انسان بايمعنى آزاد است كه بحكم طبيعت مجبور نيست خودش را در چاه ضلالت باندازد ازو كه باز از آن بر آمده نتواند ويا خودش را در اختيار ديگري قرار دهد وباز نجات نيابد طبيعت انسان از بركت همين حريت آنقدر قدرت قبول توجيهات مختلفه را دار است كه حيوان ديگري ندارد. مع الوصف اين حريت كه انسانرا از هر زنده سري در تصرف خودش ممتاز گردانيده، گاه گاهي در زندگي جلو همين پيشرفت انسان را ميگيرد واين وقتي است كه در راه انانيت وخود خواهي راهي وروان شود وهر عملش را بخاطري بجا اورد كه نفع شخصيش در آن ديده شود ولو كه بيخ وبنياد ديگري هم بران كنده شود، چه اين فرد وانسان تا وقتيكه نفع شخصي خودش را بدست ميتواند آورد بفكر اين نيست كه چگونه نفعش بدست آيد وچقدر مردم از آن متضرر شوند. از همين سبب فرديت وانانيت يا خود خواهي واغراض شخصي گرچه براي فرد مفيد ونافع باشد ليكن قانوني واخلاقي نيست، چنين انساني نه اجتماع را ميشناسد ونه بروابط اجتماعي پابندي دارد، زيرا كسيكه جامعه را ميشناسد ويا روابط اجتماعي علاقمند ميباشد او بالضرور در زندگي خود بديگران هم حق زندگى قائل است وبه عملي اقدام نميكند كه ديگران از آن متضرر شوند.

## دافغانستان دملي اسلامي محاذ دمشر محترم پير سيد احمد گيلاني مور بي بي په حق ورسيده

په خوا شپني سره مو خبر اخيستي دي چي دافغانستان دملي اسلامي محاذ دمشر محترم پير سيد آحمد گيلان مور بي بي دتيري شنبي په شپه دقوس په دريمه نيټه دپيښور په كياپيانو كي دهغي ناروغي له امله چي ورته پيښه شوي وه په حق ورسيده

دمرحومي جنازه دقوس په څلورمه نيټه دننګرهار په سره رود كي ددوي په پلارني هديره كي دجناب مرحوم مغفور نقيب صاحب دزيارت تر څنګ خاوروته وسپارل شوه.

دهغي مرحومي دجنازي په مراسموكي زيات شمير هيوادوالو ، علماوو قامي مشرانو، مجاهدينو او دپير صاحب اخلاص مندانو برخه اخيستي وه.

دمرحومي فاتحه دقوس په ٨ نيټه دپنجشنبي په ورځ دديفنس كالوني په جامع جوماتي كي دسهار له ٩ بجو څخه دغرمي تر ١٢بجو پوري اخستله كيږي موږ په داسي حال كي چي دمحترم پير صاحب او دهغه له كورني سره په دغه دراندہ غم كي ځان شريك بولو هغوي ته دجميل صبر غوښتنه او هغي مرحومي ته دبخښني او مغفرت دعاء كوو

(إنا لـ...)

## په ننګرهار كي زيات شمير...

تحريك دفتحي په تعقيب، تصفيه شول او په ځاي بي داسلامي دولت له خوا نوي ولسوالان او مسئولين مقرر شويدي.

ده زياته كړه دتورخم نه تر جلال آباده پوري بشپړ امنيت تامين دي او دخوشحالي خبره داده چي په ننګرهار او نورو مشرقي ولاياتو كي داسلامي دولت دټينګيدو نه وروسته بو قتل هم نه دي شوي په داسي حال كي چي پخوا به په دي ولاياتو كي په ورځ كي تر لسو تنو پوري ناحقه قتل كيدل همدا شان دننګرهار په يوه كور كي تر اوسه پوري كومه غلا نه ده شوي چي دا دطالبانو له اسلامي تحريك سره دخلكو داخلاص او صداقت نمايندګي كوي. مولوي احمد جان ديوي پوښتني په ځواب كي په ننګرهار كي دپخوانيو قوماندانانو دفعاليت په باب وويل: له نيكه مرغه په ننګرهار كي زيات شمير پخوانيو قوماندانانو دطالبانو اسلامي تحريك ته خپل اخلاص ښودلي دي. اوس زيات شمير قوماندانان هلته زموږ سره ملګري دي او تر اسلامي حاكميت لاندي په هغه ولايت كي دامن دتامين په برخه كي مرسته كوي.

نوموړي زياته كړه: اوس په ننګرهار كي زيات شمير قوماندانان چي پخوا له ويري څخه آزاد نشواي ګرځيداي او په محدوده توګه بي په پټه ژوند كاوه او بايه دوسلو سره له يوه ځاي نه بل ځاي ته تلل

اوس په ازادانه توګه دوسلو دليږديدو نه پرته تګ را تګ كوي او ځوك څه نه ورته وايي.

مولوي احمد جان ددي پوښتني په جواب كي چي دپخوانيو تنظيمونو افراد او عادي خلك ستاسو سره مرسته كوي كه نه؟ وويل:

د جلال آباد ټول خلك او دشپنوارو او مومندو خلك په كلي توګه دطالبانو داسلامي تحريك ملاتړ كوي. دپادوني وړده چي په دي ورځو كي دشينوارو مشرانو له ما سره وكتل او تردي كتني وروسته دهغه ځاي ټول قوماندانان دي ته حاضر شول چي خپلي ټولي وسلي اسلامي دولت ته تسليم كړي او هم بي داسلامي دولت څخه حمايه او بشپړ ملاتړ اعلان كړ او څرګند بي كړ، چي داسلامي دولت سره دمرستي په خاطر حاضر دي هره امنيتي وظيفه چي ورو سپارل شي سرته بي ورسوي.

مولوي احمد جان ديوي بلي پوښتني په ځواب كي وويل: موږ په تورخم كي دهر ډول اداري فساد او خيانت سره مقابله كړي او دچارو دبهبود لپاره مو كوشش كړيدي.

دهمدي كوشش په نتيجه كي براځي دتورخم ګمرك په محصول كي په سلوكي پنځه نوي زياتوالي راغلي دي.

## په حاجي ميدان كي دانار موسسي...

دځو مباركو آيتونو له تلاوت نه وروسته دپټي په پريكولو سره پرانستل شوي.

د(آنار) مؤسسي مشر محترم محمد صديق پشمن زموږ خبريال ته ددغه خبر دوركولو په ترڅ كي وويل: داويو رسولو نوموړو پروژو كار رواني ميلادي مياشتي په پنځلسمه نيټه پاي ته ورسيد.

دپرانستلو په مراسمو كي د UN/

OPS ددفتر له خوا دانجنيري ګروپ ټيم پدر محمد ضمير اكبري، مانيټور انجنير عبدالقدير او دخلكو سره دارتباط مسؤول محمد يوسف الكوزي او دانار موسسي له خوا ددي موسسي مشر محترم پشمن دخلكو استازي، انجنير باغي شاه او دسيمي ګڼ شمير سپين ږيرو او مخورو برخه اخستي وه.

## محترم ملا محمد حسن آخند په يوه...

داسلامي دولت اهداف څرګند او دصنايعو كارګران بي خپلو وظيفو ته متوجه كړل.

دريوټ سره سم دفابريكي رئيس دكار ګرانو او منسوبينو په نمايندګى ژمنه وكړه چي دفابريكي دتوليداتو دزياتوالي په برخه كي به له هيڅ ډول هلو ځلو څخه ډډه ونه كړي.

ديوي مسئولي منبع په قول دافغان صنايعو په مؤسسه كي اوس دورځي څه دپاسه دري زره كلچي صابون او سل موړي برتان توليديږي او دوه سوه ټابرونه ويه كشي كيږي.

غونډي په پاي كي د فابريكي دكارګرانو سره نقدي مرستي هم وشوي.

## اختلافات وسيع...

پايان بخشند ودر جلسه، تخار در مورد همين موضوع گفتگو نيز شده است.

خبر مي افزايد: به اثر همين اختلافات پروگرام عمليات مخالفين به شهر هرات عملي نشد.

ونيز قواي دوستم در بادغيس به شكست فاحش مواجه گرديد.

در خبر علاوه شده: اختلافات ميان شوري نظار ودوستم قوس صعودي خود را مي پيمايد وبه حدي شدت يافته است كه مسعود نميخواهد از بيم حمله احتمال دوستم افراد خود را نزديك خطوط قواى دوستم جا بجا نمايد.

## دشريعت تبصري پاتې برخه

دي ترلي او دوي دغه حركت هم دهمدي لپاره پيل كړي دي چي ديوه بيطرفه اسلامي ملي قوت په توګه ملت ته له دغه بحران څخه نجات وركړي، دطالبانو اسلامي تحريك دهمدغه مقدس هدف دترلاسه كولو په غرض مخ په وړاندي روان دي او غواړي دهيواد په پراخه لمن كي دجنګ او جګړي ټول عوامل له منځه يوسي، څوكه څوك بي دشخصي او تنظيمي ګټو له مخي دپروګرامونو دتطبيق په لار كي خند كيږي، نو نو مجبور دي چي له وسلي څخه كارواخلي چي په دغه شان حالاتو كي له وسلي څخه استفاده كول يو مهم ضرورت دي ځكه دټول ملت دسوكالي لپاره دغو كسانو له منځه وړل داسلامي اصولو او ملي رواياتو له مخي يو روا عمل دي.

دطالبانو اسلامي تحريك پو ګل بيا په ملي او بين المللي سطحه دافغانستان په قضيه كي ټولو دخيلو اړخونو ته اعلانوي هغه بيطرفه او ملي قوت چي دجګړه مارو قوتونو دله منځه وړلو لپاره وړاندي فكر كيدو او دهغه لپاره پراخي هلي ځلي رواني وي په اوسنيو شرائطو كي يوازي او يوازي دطالبانو اسلامي تحريك دي چي نه دكوم بهرني قوت په مالي او نظامي مرسته تكيه لري او نه بي له كومي جګړه ماري ډلي سره داړيكو درلودلو بيلګي څوك په ګوته كولاي شي، نو راځي چي دهمدغه اسلامي تحريك تر

ځنګ ودريږو او دهيواد دروان بحران دپاي ته رسولو لپاره بي ديوه بيطرفه ملي قوت په توګه هر كلي وكړو، دا ځكه چي دهمدغه اسلامي تحريك په سيوري كي دهيواد له دريو برخو څخه په دوو برخو كي دجنګونو امكانات بيخي له منځه تللي، خلكو عادي ژوند پيل كړي دي او په مجموع كي ديوه مركزي قوي حكومت دجوړيدو لپاره لاره اواره شوي ده. ترېواله ټولنه په تيره بيا زموږ ګاونډي هيوادونه بايد دغه ټكي له پامه ونه غورزوي چي اوس تربل هر وخت په افغانستان كي دسولي او ارامي امكانات زيات شوي او ديوه بيطرفه ملي قوت په توګه دطالبانو اسلامي تحريك ددي صلاحيت تر لاسه كړي دي چي په ټول افغانستان كي دجنګونو عوامل له منځه يوسي او دخپل مسلمان او مجاهد ملت له ارادي سره سم دمركزي قوي حكومت دجوړولو وياړ تر لاسه كړي چي البته همدا اوس په هيواد كي ددغه شان يوه مركزي حكومت خښته ايښودل شوي ده چي دمسلمان ملت په اراده او غوښتنه تكيه لري.

| دګټون بيه شپږ مياشتي | كالني | |
|---|---|---|
| پاكستان | Rs.400 | Rs.200 |
| دخليج هيوادونه | SR.300 | SR.150 |
| اروپا وامريكا | US$150 | US$75 |

## دافغانستان اسلامي دولت دهيواد...

يو بل خوا خوړي افغان دكندهار د دار المعلمين دوداني دترميم لپاره/٦٠٠٠/ماركه له اسلامي دولت سره مرسته كړي ده.

خبريال وايي چي دافغانستان داسلامي دولت مسئولين په هيواد كي دننه او له هيواد څخه بهر دخوا خوږوافغانانو دهر ډول مالي مرستو منته كوي او خپل هيواد ته دراتللو په اړه هر ډول اسانتياوي ورته برابروي چي په دي لړ كي په اروپا كي داوسيدونكي يوي افغاني خور او يوه افغان ورور دغي مالي مرستي ته دقدر په سترګه ګوري او په دي توګه له ټولو ششمتو هيوادوالو څخه دزړه له كومي غواړي چي دويجاړ افغانستان په بيا ودانولو كي له خپل اسلامي دولت سره خپلي مرستي جاري وساتي.

## دعدليي وزارت سرپرست...

اردو دټولو قطعاتو دفعالولو ستاينه وكړه او دروانې وضعي په هكله بي وويل چي مخالفين داسلامي دولت په خلاف هيڅ اقدام نشي كولي ځكه چي زموږ نظامي قطعات داسي فعال دي چي په پخوانيو حكومتونو كي بي ساري نه ليدل كيږي.

ديوه بل خبر له مخي دعدليي وزارت سر پرست محترم ترابي په مشري ننګرهار ته راغلي هيئت په دي ولايت كي بيلي بيلي دولتي اداري وليدلي او مسئولينو ته بي لازمي لارښووني وكړي.

خبر زياتوي: مولوي ترابي يوه كميسيون ته وظيفه وركړه چي ددولتي ادارو دفعاليتونو راپور برابر كړي.

## په ننګرهار كي...

راغلي.

دغه راز ديوه بل خبر له مخي په ننګرهار كي ١٣ ميله كلاشنكوف كشف او نيول شويدي.

لاس ته راغلي وسله دخشيځ زون درئيس محترم مولوي عبدالكبير په امر مسئولي مرجع ته سپارل شويده.

## ددوستم ۲۲ دوله...

خولي خبر راكوي: ددوستم ٢٢ دوله جټ الوتكه هغه وخت دباد غيس دبالا مرغاب په ولسوالي كي رانسكوره شوه چي هلته بي داسلامي اردو سنګرونه بمباري كول.

وياند ويلي دي: ددي الوتكي پيلوټ چي دسيد غلام زوي سيد مجيب الله نوميږي دمجاهدينو له خوا ژوندي نيول شويدي شريعت غږ راديو دباختر داطلاعاتي آژانس په حواله دجټ الوتكي درانسكوريدو خبر تائيد كړي او ويلي دي چي نوموړي الوتكي دبادغيس په ولايت كي داسلامي دولت دارډو په سنګرونو توغندي ويشتل درارسيدلي خبر په اساس ويل كيږي چي دغه جت الوتكه دسټنګر توغندي په وسيله راغورځول شويده. پخوا هم په لغمان او كابل كي دوه الوتكي چي ددوستم په هوايي قواوو پوري مربوطي وي را غور ځول شوي وي.

ديوه بل خبر له مخي په بالا مرغاب كي دوه ورځي مخكي داسلامي اردو او دوستم قواوو تر مينځ په جګړه كي ددښمن ٣٠ تنه ژوندي نيول شوي او د٢٥ تنو مړي دجګړي په ميدان كي پاتي دي. خبر زياتوي ددي برغل په نتيجه كي چي دطالبانو له خوا پيل شوي يو شمير لوي او واړه موټر، سپكه او درنده وسله لاس ته راغلي ده.

### يادونه

ښايي ستاسو ايمان په اجازه درنكړي چي دا ډول سپيڅلي پاڼي په ناوړو ځايونو كښي وغورځوي.

(اداره)

## آيا گوشهاي جهانيان ناشنوا وچشمان شان نابينا است؟

درين روزها برهان الدين رباني در يك كانفرانس مطبوعاتي در پاريس ومصاحبه با راديو بي بي سي، بحيث رئيس جمهور خود ساخته افغانستان براي خوشنودي غرب وجهان غير اسلامي بر تحريك اسلامي طالبان تاخت وتاز، بيمورد نموده واعتراض هاي بيجا وارد كرده است.

بلي! رباني بابي شرمي تمام ، با چنان وقاحت وبي منطقي كه منافي ايمان وعقيده سالم بوده بيان داشت كه گويا استقرار نظم اسلامي توسط تحريك اسلامي طالبان خطر وچلينج بزرگي را متوجه كشورها بي ساخته است كه به زعم وي با تحريك اسلامي طالبان همكاري مينمايند و از آنان حمايت ميكنند.

رباني با وجود اضمحلال خود واداره، فاسد ومردم دشمنش تلاشهاي مذبوحانه مينمايد تا عده، از محافل بين المللي را فريب دهد كه وي تا هنوز رئيس جمهور افغانستان بوده!! وموجوديت تحريك اسلامي طالبان خطري براي جوامع بين المللي وممالك همجوار است!؟.

با وجود آنكه ديگر رباني ودولت لجام گسيخته اش از صحنه، سياسي ونظامي افغانستان زدوده شده وبه زباله دان تاريخ سپرده شده است.

مگر مردم ما خبرندارند، مگر دنيا اطلاع نداردكه مقاومت با ايمان وبا تقوى تحريك اسلامي طالبان به ياري خداوند بزرگ وحمايت بي دريغ ملت غيور افغانستان دولت پوشالي وبي بنياد رباني را كه برپايه هاي چوبين خدعه وفريب، غبن وخيانت، فساد ودروغ استوار بود. از بيخ وبن منهدم ومضمحل كرده است؟

مگر گوشها جهانيان نا شنوا وچشمان شان نا بينا است كه با استحكام واستقرار دولت اسلامي توسط تحريك اسلامي طالبان در افغانستان از بركناري وعزل رباني ودولت نا مسعودش اطلاع ندارند؟

نه خير، امروز مردم ما ومردمان سراسر گيتي واقعيت هاي به وجود آمده در افغانستان را درك ولمس كرده اند وتحولات اخير سياس ونظامي دركشور ما را تحولات، تبدلات وتغييرات بزرگ نظامي وسياسي قرن وعصر حاضري پندارند حتى متمدين وياران داخلي وخارجي رباني به همين باوراند. محض رباني ودارو دسته اش در خواب خر گرش فرو رفته اند وخويش را هنوز هم كماقي السابق احساس ميكند.

برخي از كشورهاي فتنه انگيز وشيطان صفت كه اداره اسلامي وتحكيم دولت اسلامي در افغانستان را مغاير مصلحت هاي سياسي، نظامي واقتصادي خود تلقي مينمايند گويا هنوز هم رباني را در كنار خويش به عنوان رئيس جمهور به زعم خودشان ابقا مي كند وبدين وسيله دشمني وحسادت شان را با مردم مسلمان ومجاهد افغانستان ابرازي نمايند.

جاي خيلي تعجب است كه مغاير عينيت ها وواقعيت هاي موجود در افغانستان بطرس غالي سر منشي ملل متحد هم با تخلف از اصول وقوانين بين المللي مؤسسه سازمان ملل متحد، رباني را به عنوان رئيس دولت افغانستان در نشست مؤسسه جهاني مواد خوراكه، عدوت مي كند، گر چه بعداً افشا شد كه بطرس غالي بنا بر فشار واجبار امريكا به چنين كاري غير قانوني مبادرت كرده است.

حقيقت هر چه باشد، باشد ولي جان سخن اينجاست كه چرا وروي كدام ملحوظات ديدگاه ها عده از كشورها وافراد از قبولي حقايق وواقعيت هاي موجود در كشورما طرفه ميروند وبه تحولات مهم اخير در افغانستان به چشم اغماض مينگرند.

رباني، دار ودسته ويارانش بايد بدانند كه اين ياوه سرايهاي واين تلاش هاي بيهوده آنها مثمر بثمري واقع نميشود ودولت اسلامي افغانستان كه بر مبنى خواست مردم كشورما در پرتو حمايت بي دريغ وهمه جانبه، آنها وتأئيد نصرت خداوندي (ج) بوجود آمده واهداف ارزشمند اسلامي وشريعت مصطفى محمدي (ص) را تطبيق مينمايد به هيچ صورت به اين يا وه گويي ها خدشه دار نميگردد وبه آن وقعي نميگذارد.

ما از جهانيان، از كشورهاي دنيا مؤسسه ملل متحد وساير سازمانهاي بين المللي تقاضا مينمائيم كه از يك طرف دولت اسلامي افغانستان كه توسط تحريك اسلامي طالبان بوجود آمده به رسميت بشناسند واز جانبي هم با در نظر داشت تحولات بنيادي در ساختار سياسي واجتماعي وپديده هاي عيني وواقعي جامعه افغاني به دولت اسلامي افغانستان طبق موازين واصول بين المللي ارج گذارند وجلو يا وه گويي هاي نا انديشان وبي خردان را بگيرد.

## دقدرت لپاره رباني...

دافغان كړ كيچ خوړلي ته ښوزي وهي چا رباني دظاهر شاه مخكي ګوښو وهلوته اړ ويست آيا دهغه صدر اعظم اعلان ونه كړ چي درباني او ملګرو سره به بي هر ډول (سياسي، نظامي) مرستي كوو، آيا رباني ددوي ګودا دبخښي او عطبي دمنتي او نمانځني په ډول ونه ويل چي زما دواكمني په مړوده كي دهغه بيدريغه مرستي هيريدلي نه شي.

په هر حال رباني په خپله څلور كلنه دوره كي ملت ته ثبوت وركړيدي چي دي داسلام او ملت په فكر كي ندي له ده سره

دواك او پيسو غم دي او ددي هدف لپاره هر تنازل او سازش ته حاضر دي، رباني وښوده چي دي داسلامي حكومت دقيام استعداد او كفايت نه لري او له ملت نه رټل شوي دي نو ښه به دا وي چي بي له كوم قيد او شرط څخه داسلامي اردو دځواكونو په وړاندي وسله په ځمكه كيږدي او دبي ثمره مقاومت څخه لاس واخلي اوس انشاء الله اسلامي دولت ديري په درشل كي دي او درباني مسعود او اتحادياتو ډويه بيړۍ بي په زګ نه را اېساريږي.

## اعـــــلان مفقودي

از مدت چار ماه به اينطرف دو پسر عزيز «نيازي» به نام هاي حميد الله وسليمان كه پنج ساله ويك ساله هستند ويك دختر ده ساله نامبرده به اسم فريما در منطقه كارته پروان شهر كابل از نزد يك منزل شان مفقود گرديده اند. هر كسيكه در مورد اطفال مذكوره معلومات واطلاع داشته باشد به ادرس هاي ذيل خبر دهند وشريني كاف اخذ نمايند.

در پشاور: بورگرين افغان ريستورانت: جهانگير آباد. نمبر تلفون: ٨٦٦٨٧٩.

در كابل: موتر فروشي عزيز «نيازي» حصه دوم كارته پروان نمبر تلفون: ٣٣٤٩١.

**SHARIAT WEEKLY**

Editor-in-Chief : Molvi Ahmad Jan.

PAK-RUPE A/C; CD. No.1694-69

Habib Bank LTD. Tehkal Bala Branch

Peshawar Pakistan